مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید ۲۰۲۵/۱۰/۱۱

# افغان، د ماتو شویو امپراتوریو خیراتونو ته ناست ملت

په نړیواله کچه د پرمختګونو ترشا بنسټیز لاملونه یو له بل سره نښتي او په ګډه د ملتونو د برياو انځور جوړوي. د ساینس او تیکنالوژي په برخه کې د لوړو زده کړو په ښکلا سمبال بشري ځواک د بشپړې خپلواکي او په نړیواله ټولنه کې د درنښت وړ مقام ترلاسه کول تضمینوي، پداسې حال کې چې د وخت له بدلیدونکو اړتیاو سره سمې روڼې او حساب ورکوونکې دولتي ادارې او د قانون حاکمیت د ولس او حکومت ترمنځ د باور فضا رامنځته کوي. سیاسي ثبات او په حکومتولۍ کې د خلکو پراخ ګډون ټولنه د برياو په لاره برابروي. له طبیعي زېرمو څخه اغېزمنه ګټه، اقتصادي تنوع، د صنعت وده، او د صاداراتو پرمختګ د هېوادونو اقتصادي ځواک زیاتوي. پرمختللې زیربناوې، لکه برېښنا، سړکونه، انټرنېټ، او شفاف عامه خدمتونه د پانګونې د پراختیا بنسټونه دي. له دې څخه ورهاخوا پرمختللي ملتونه له نړیوالو بدلونونو سره د انعطاف منونکي چلن له لارې په خپل وخت غبرګون ښیي. دا ټول لاملونه د یوې داسې ټولنې انځور وړاندې کوي چې پوهه، عدالت، اعتماد، او ګډو موخو ته ژمنتیا پکې د پرمختګ معیارونه ګرزیدلی وي.
موږ افغانان، چې د تاریخ په اوږدو کې مو د ګڼو امپراتوریو پښې ماتې کړي، نن ولې د ژوند په هره برخه کې محتاج ملت یو؟ ولې په پنجاب، ایران، خلیج او نورو هېوادونو ته د لاس مزدورۍ ته منډې وهو؟ ولې د نړۍ له هیڅ هېواد څخه افغانستان ته هیڅ ناروغ درملنې ته نه راځي خو موږ هر هېواد ته د خپلو رنځونو د درملنې لپاره روان یو؟ د افغانستان د زده کړو پخوانی معیارونه ولې نازولي حرکت کوي؟ ځواب دا نه دی چې موږ د پرمختګ لپاره مو فرصتونه نه دي ترلاسه کړي، بلکې فرصتونه مو په خپله له لاسه ورکړي، له ځان او له خپل ورور سره هم سوله نه ده کړې. موږ له له خپل دین، خپل کلتور، خپل تاریخ او له خپل وجدان سره بېوفايي کړې ده.
موږ د ډيلي او اصفهان د فتحه کولو انګریز شوروي او امریکا د ماتولو ویاړونه لرو، خو متاسفانه اوس د هغوی خیراتونو، مرستو او ملاتړ ته ناست یو. د سترو علماو لکه ابوریحان البیروني بوعلي سینا، ناصر خسرو بلخي محمود طرزي او عبدالرحمن پژواک په شان پوهانو په هېواد کې متاسفانه تر ټولو ښکته تنخوا د ښوونکي ده چې نتیجه یې نن زموږ په ټولنه کې ورځ تر بلې په مسلسل ډول د ښوونې او روزنې ښکته کچه ده او دغه بوږنوونکی حالت لاهم په تیزي سره نزولي حرکت کوي. زموږ خاوره له سرو زرو خو فکرونه د ډله ییز او توکمیز تعصب له خځلو ډک دي. دغه تقابل ، دغه غمیزه او همدغه نفسیاتي زوال له خپل ځان سره زموږ د جګړو نتیجه ده، یوه نه ختمېدونکې جګړه د فکر او احساس ترمنځ جګړه، د روایت او حقیقت ترمنځ جګړه، د تقدیر او انتخاب ترمنځ جګړه، د ړوند تقلید او ملي ویښتابه ترمنځ جګړه.
جاپان له اټومي دوزخ څخه کنډ کپړ راپاڅېده او د ښوونځي د دروازې له لارې یې د خپل عروج لوړ برجونه جوړ کړل، جرمني د مات شوي نازیزم د شرم له غار څخه راووت، له زده کړو، تیکنالوژي، صنعت او له نورو سوله ییزو لارو څخه په ګټه اخیستنه یې ویاړونه وګټل او اوس د اروپا مخکښ هېواد دی. رواندا، چې په یو بل باندې یې د خپلو خلکو د ظلم له لاسه ژړل، نن د افریقا اقتصادي زړه دی، ځکه چې هغوی یو بل ومنل، یو بل ته یې غوږونه ونیول، د یو بل اړتیاوې یې درک کړې او د یو بل په مقابل کې یې د قهر پر ځای د عقل او عواطفو لاره ونیوله.
خو موږ؟ موږ لا هم د هغه ذهني استعمار قرباني یو چې یو بل ته له غوسې ربړدو. د یو بل ښکته کولو، ځورولو، ماتولو، سپکولو او وژلو ته لارې لټوو، پوهنتونو ته مو ځولنې اچولې دي. زموږ ټولنیز جوړښت د تضاداتو ډګر دی. چا ته مدرسه د ټولنې د اوږو بار او افراطیت ته د ودې ورکولو زانګو او چاته پوهنتون د فحاشي او سیکولریستي افکارو خپروونکې ښکاريږي، د مفکورې خاوند ته بدعت ګر، او د سولې پلوی ته د بېغیرته خطاب کوو. دلته وژونکي اتلان يادیږي خو دَ زده کړو په ډګر کې د اتلانو نومونه خو څه چې قبرونه یې هم نه پیژنو. موږ لا هم له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خپلو نفسیاتي رنځونو سره لاس او ګریوان یو، او د یو بل په وړاندې د دښمن په کور کې را ټولیدل د افغانستان د ستونځو د حل لارو لټولو هڅه ګڼو، خو د سولې نوښتګر ته غدار وایو. دا داسې ستم دی، لکه یو ملت چې خپل قاتل ته چکچکې وهي، او په خپل خواخوږي باندې لعنت وایي.
افغانستان د ټولو ګډ کور او په ګډه د دغه کور جوړول د هر افغان دنده ده. له ورور سره سوله کول د کمزوري او ماتې نښه نه ده، بلکې د جرئت تر ټولو بډایه بڼه ده. سوله هغه وخت معنا لري، کله چې انسان د غچ پر ځای بښنه انتخاب کړي، د انتقام پر ځای انصاف، د "ما" پر ځای په "موږ" باندې تمرکز وکړي او د انحصار پرځای مشارکت غوره وګڼي. سوله د دښمن په غولي ناست او په دروازه کې ولاړ د خیرات له غوښتلو نه بلکې په خپله خاوره له خپل افغان مخالف سره په کیناستو  ترلاسه کیږي.
موږ باید د خپل تاریخ له کړو لارو څخه تېر شو، د فکر، اعتدال، او د انسانیت له ارزښتونو سره یو نوی تړون وکړو. هغه ولسونه چې د خپلو زخمونو له درملنې څخه وېره لري، هیڅکله به د صحت پر لور ګام وانخلي. موږ باید پر خپلو ناسوري ټپونو ګوتې کېږدو، د خپلو سترو غلطیو نومونه واخلو، او د راتلونکي نسل پر وړاندې د بخښنې، عمل، او د بدلون کلتور ننداري ته وړاندې کړو
د افغانستان تقدیر به هغه ورځ بدلیږي، کله چې د مدرسې شاګرد له انجنیر، اقتصادپوه، او ژورنالیست سره په ګډه د وطن د زخمونو په درملنه فکر وکړي. کله چې د جومات ملا د پوهنتون استاد ته غوږ ونیسي، کله چې د سیاستوال له خولې د قوم ژبې قشر او ډلې نه بلکې د انسانیت خبره وشي. دا به هغه وخت وي، چې د وطن ریښې به ژورې، او زموږ د بقا فلسفه به له وینو څخه نه، بلکې له فکري وړمو څخه را وټوکیږي.
پرمختګونه د هغو ولسونو حق دی چې له ځان، دین، ولس، وطن او وخت سره ریښتوني پاتې شوي وي. هغوی د راتلونکي نسل لپاره جګړې نه، بلکې کتابتونه ټیکنالوژي ساینسي لاسته راوړنې په میراث پرېږدي، د نفرتونو دیوالونه نه، بلکې د نښلولو لپاره قانوني اصلاحات، پلونه، بیرزوینې، وروروليي ته وده ورکوي، ویش او بیلتون نه، بلکې د یوځای کیدلو، یو بل منلو او زغملو دود یې رامنځته کړی دی. که موږ دا کار ونه کړو، تاریخ به موږ د خپلواکي لپاره د قربانیو ورکوونکی ملت په توګه نه، بلکې جګړه کوونکي ولس او د فرصتونو له منځه وړونکی ملت په نوم یاد کړي او دا به له هر ډول ماتې، له هرې بیوزلي او له هر رنګ احتیاج څخه بد نوم وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ